د افغانستان اسلامي امارت
د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت
مالی او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت

# راستنیدنه عودت
اونۍ هفته نامه

(۷۰)گڼه وږی ۱۴۰۴: شماره (۷۰) سنبله ۱۴۰۴ :صفحه اول:لومړی مخ



## د محترم مولوي عبدالکبیر په مشرۍ د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت اداري ناسته ترسره شوه.

په دې ناسته کې چې د کډوالو او راستنېدونکو چارو مرستیالانو او مرکزي رئیسانو برخه درلوده، له اجنډا سره سم د یو شمېر مهمو موضوعگانو په هکله په کې بحث او پرېکړې وشوې. محترم مولوي عبدالکبیر د ناستې په پیل کې راستنو شوو ته، د غوره خدمتونو وړاندې کېدو په برخه کې د خپلو همکارانو او د اسلامي نظام د مسوولینو د هڅو په ستایلو سره، د اسلامي امارت موخو ته په اشارې سره وویل، چې افغانستان ابادولو ته اړتیا لري او باید له هر فرصت څخه اغېزمنه گټه پورته شي. محترم وزیر د اسلامي امارت په ادارو کې پر مسلکي چلند ټینگار وکړ او زیاته یې کړه ، چې هڅه کوي له هرې ممکنې شرعي لارې، راستنو شوو ته دایمي سرپنا چمتو کړي. د محترم مولوي عبدالکبیر په وینا، چې د کډوالو چارو وزارت په هڅو سره، د ملگرو ملتونو له اړوندو ادارو سره د اړتیا وړ همغږي رامنځته شوې او توانیدلي، چې په گاونډیو هېوادونو کې هم د افغان کډوالو یو شمېر ستونزې هوارې کړي . محترم وزیر له گاونډیو هېوادونو څخه د راستنېدونکو افغانانو شمېر ته په کتو مسوولینو ته سپارښتنه وکړه، چې د راستنېدونکو د نوې احتمالي جوپې پیل ته چمتووالي ولري او خپلې اړتیاوې د وزارت له مقام سره شریکې کړي. د ناستې په پای کې محترم وزیر گډونوالو ته سپارښتنې وکړې او وې وویل، چې د کډوالو چارو وزارت د کارکوونکو ظرفیت لوړېدو ته باید پام وشي او همدارنگه له ولایتي مسوولینو سره د همغږۍ او ستونزو حل لپاره دې له ځنډ مخنیوی وشي.



## ریاست امور مهاجرین ولایت بلخ روند رساندن آب پاک به باشندگان ولسوالی البرز را آغاز کرد

به اساس گزارش ریاست امور مهاجرین و عودت کننده گان ولایت بلخ، روند آبرسانی برای باشنده گان ولسوالی البرز آن ولایت آغازشد. حسب هدایت والی بلخ و با حمایت مالی یک نهاد کمک‌کننده، ریاست مهاجرین روند انتقال آب آشامیدنی پاک را برای حدود ۵۰۰۰ خانواده در و لسوالی البرز با حضور مولوی اسدالله وفا، رئیس مهاجرین بلخ، مولوی سیف‌الله معتصم، و لسوال البرز و سایر مقامات و ساکنان محلی آن و لسوالی آغاز نمود. قرار است که روزانه بیست تانکر حامل بیش از ۱۵ میلیون لیتر آب پاک در ۲۳ قریه آن و لسوالی رسانده خواهد شد که مشکل ساکنان محل از ناحیه کمبود آب صحی رفع خواهد شد.



## د پاکستان له زندانونو څه باندې ۱۰۰ تنه افغان مهاجرین ازاد شول

په تېره یوه اونۍ کې ۱۴۰ تنه افغان مهاجرین، چې د پاکستان په بند خونو کې و؛ ازاد او هېواد ته راستانه شول. د کندهار ولایت د سپین بولدک د مهاجرینو د لېږد آمریت د معلوماتو پر اساس یاد شوي کسان د پاکستان په بېلابېلو سیمو کې نیول شوي وو او دیوې ورځې څخه تر ۷ ورځو پورې په بند خونو کې ساتل شوي وو. یاد شوي کسان د ثبت او بشري مرستو وروسته خپلو اصلي مېنو ته لیږدول شوي.

## در۹ ولایت کشور، بیش از ۷ هزار خانواده از مساعدت های بشری مستفید شدند

برای ۷۰۷۹ خانواده بیجاشده، برگشت کننده، نیازمند و جامعه میزبان در ولایات کابل، جوزجان، بلخ، ننگرهار بغلان، نورستان، لغمان، غور و خوست کمک های بشری، در هفته روان، توزیع شد. برای ۶۰۴ خانواده در جوزجان ۹ قلم مواد خوراکی، ۱۴ قلم مواد حفظ الصحه و مبلغ ٦٦٠ هزار و ۸۲۰ افغانی، برای ۵۰۷۱ خانواده در بلخ یک بسته صحی شامل ۱۴ قلم، برای ۱۰۳۲ خانواده در کابل مبلغ ۱۳ میلیون ۱۳۳ هزار و ۹۲۰ افغانی و ۹ قلم مواد خوراکی، برای ۳۳ خانواده در ننگرهار مبلغ ۳۷۲ هزار و ۹۰۰ افغانی، برای ۱۸۴ خانواده در نورستان مبلغ ۲ میلیون ۹۹۰ هزار افغانی، برای ۱۴ خانواده در لغمان یک بسته صحی، برای ۹ خانواده در بغلان مبلغ ۱۵۷ هزار افغانی، برای ۲۰ خانواده در غور مبلغ ۲۷۵ هزار افغانی و برای ۱۱۲ خانواده در خوست مبلغ یک میلیون ۵۲۳ هزار و ۲۰۰ افغانی، مساعدت موسسات همکار پس از شناسایی آنان، توزیع شد.




## د نورستان ولایت د کډوالو آمریت کارکوونکو ته د پلان جوړولو او راپور ورکولو روزنیز پروگرام جوړ شو

د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت د پلان او پالیسۍ رییس مولوی محمود الحق احدي په مشري یوه پلاوي د نورستان ولایت د کډوالو امریت کارکوونکو ته د درې ورځني روزنیز پروگرام د ترسره کولو په موخه یاد ولایت ته سفر کړی دی. په دغه پروگرام کې د وزارت او د پلان ریاست ستراتیژیک اهداف، کاري میتودونه، د پلان جوړولو طریقه، معیاري راپور لیکنه، د آنلاین سیستم (OPRS) دقیق او اغېزمن کارول او عملي کارونه د موظف هیات له لوري کارکوونکو ته وړاندې شول. د پروگرام گډونوالو د داسې روزنیزو برنامو له جوړېدو هرکلی وکړ او دا یې د خپلو کاري فعالیتونو د پرمختگ لپاره یو مثبت او ارزښتناک گام وباله. د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت ژمن دی، چې د کارکوونکو د ظرفیت لوړولو او د خدماتو د کیفیت د ښه کولو په موخه ورته پروگرامونه په نورو ولایتونو کې هم ترسره کړي.

